# قرآن ولولئ، ځکه چې د قيامت په ورځ خپلو خاوندانو ته شفاعت کوونکي راځي

له أبو أمامة الباهلي رضي الله عنه څخه روايت دی وايې چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې ويل يې: «قرآن ولولئ، ځکه چې د قيامت په ورځ خپلو خاوندانو ته شفاعت کوونکي راځي زهراوين (بقرة او آل عمران) تلاوت کړئ، ځکه چې دواړه د قيامت په ورځ لکه د دوو وريځو يا سيورو په شان راځي، يا د مرغانو د دوو سېلونو په څېر، د خپل ويونکي څخه به دفاع کوي، البقره سورت ولولئ، ځکه چې اخېستل يې برکت، پرېښودل يې پښېمانتيا او تمبل او لټان خلک يې نه شي اخېستلی.

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د قرآن کريم په دوامداره تلاوت کولو ټينګار کړی؛ ځکه قرآن د قيامت په ورځ خپلو تلاوت کوونکو ته شفاعت کوي؛ هغوی چې عمل يې پرې کړی وي، بيا يې د البقره او آل عمران په سورتونو تاکيد وکړ او دواړه يې په زهراوين او ځلانده سورتونو سره ياد کړل؛ د روښنای او هدايت له امله. او دا چې د تلاوت- او په معنا کې يې تدبر او پر هغه څه عمل کول چې پدې کې دي - اجر يې د قيامت په ورځ لکه د دوو وريځو او داسې نورو په څېر، يا لکه د مرغانو د دوو سېلونو په څېر چې وزرونه يې غوړولي او يو له بل سره نښلولي وي او په خپل خاوند يې سيورى جوړ کړی وي او دفاع ترې کوي. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم د سورة البقرې پر دوامداره تلاوت، په معنا کې يې تدبر او پر هغه څه عمل تاکيد کړی دی چې پکې دي، او دا چې برکت او په دنيا او آخرت کې لويې ګټې پکې نغښتې دي، او پرېښودل يې د قيامت په ورځ پښېمانتيا او افسوس دی او د دې سورت له فضيلت څخه يو دا دی چې جادوګران نه شي کولای هغو کسانو ته زيان ورسوي چې دا سورت تلاوت کوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/10851

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee